آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۵/۰۳

# «چې مــاران د خــونــي شتــه، خــوبــي کــدامـــه»

## خوشال پوهنه

### اشعار

### ۷

د پښتو ادب د ستر اتل خوشالخان خټک په ګڼ شمیر اولادونو کې یو هم د ده بهرام نومی زوی و. له بهرام نه خوشال ډیر ځلې سر ټکولی دی. کلونه پخوا، کله چې د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې زه د خوشال پوهنې په مضمون کې اسیستانت او مدرس وم، نو مې د تدریس تر څنګه د خوشال د افکارو او آثارو په باب ځیرنې هم کولې. د دغو ځیرنو په لړ کې مې یو مضمون ولیکه چې سرلیک یې «خوشال خان او بهرام خان» .

د دې مضمون په لیکلو کې زما لاربنود استاد پوهاند رحیم الهام و، بنه په مزه یې سترې کړم، کتابتون په کتبتون یې وګرځولم، تر څو چې قانع شو. وروسته د لاربنود استاد له قناعت مې یاد مضمون د کابل پوهنتون په علمي نشراتي ارګان«اجتماعي علوم» مجله کې خپور کړ، له بده مرغه چې اوس د یادې مجلې کال او ګڼه را ته یاد نه دي. دومره مې په یاد دي چې په هغې مقاله کې مې د بهرام په باب، د خوشال ځومره نظریات چې را اخیستي وو، ټولو منفي جنبه درلودله.

خو داسې هم راغلي دي چې خوشال لکه د یو رینښتیني مشر او زړه سوانده پلار په توګه بهرام خان ته ډیر بنه نصیحتونه هم کړي دي. د خوشال په ګڼ شمیر قصایدو کې یوه قصیده د پدرانه نصیحت په ځیر د بهرام په آدرس لیکل شوې ده.

د دې قصیدې ډیرې بیتونه اوس هم لا د سیاسي او ټولنیز ژوند په چاپیریال کې لکه زرو سکې، چلش لري او که یې اوسنی نسل په ځیر ولولي او په سمه توګه یې واوري، نو به یې د لارې ځراغ شي. د خوشال پوهنې په دې برخه (اومه) کې مې د خوشال له یادې قصیدې نه په منتخب ډول دا بیتونه را خوښ کړي دي:

زمـا زړه لـه چـا نـه روغ نـه دی بـهرامـه
لـه هـر چـا سره مـې زیست دی لـه نـا کـامه

نــوکــري خــوانــي دا دواړه لــکــه بــام دي
پــه پــیـری کــې لــه مــا ولاړل دواړه بامه

اوس دا دواړه بــامــه ستـا دي ننداره کـړه
غـافـل مـه شه یـو زمـان تـر صبح و شـامـه

پـه دا اوښ بـانـدې چـې ستـا کـجـاوه ایښې
رسوه یـې چـې پـرې نـه وځـې لـه مقـامـه

اهـل شـر تـه د شـاهین منـګـول پیدا کـړه
اهـل خـیـر وتــه حـلـیم شه تـر حمامـه

ځـو دې تـوان تـوفیق رسیږي بیرون مـه شه
پـه هـر دم د پـښتـانـه لـه ننـګ و نـامـه

پـه فـرمـان د بـادشـاهـانـو څـه بـاور دی
چې بـتـر دی د قـاضـیـانـو تـر اعـلامـه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

که دې زړه وي چې به پايې لکه خضر
د نيکيه نوم ژوندی دی تل مدامه

ته د چا و جام ته هيله اميد مه کړه
حريفان دې باده نوش وي ستا له جامه

خوره، خوروه، غوټه ساته د کار له پاره
کامراني شي د دنيا له سر انجامه

ښه سردار وته د نوم خزانه بويه
که نور هيڅ ور څخه نه وي بې له نامه

ورکول تورې وهل دا دواړه بويه
چې پرې چار د سرداری شي انصرامه

رخنه ګر د ملک په خونه کې ماران دي
چې ماران د خونې شته، خوبې کدامه

رعايت له رعيته سره ښه دی
دا هاله چې بيرون نه وي له احکامه

له ختکو نه مې هومره زړه نا خوښ دی
چې توبه د همګي ختک له نامه

د نعمت په قدر هيڅ خبر دار نه دي
نوم ختک به مې خلاص نه وي له انعامه

چې يې خويښ کړې يا يې دوست کړې لا بلا شي
د ددانو څه غرض له احترامه

که زموږه خانه نه وي، ختک ورک و
د خواجه په نوم اصيل دي څو غلامه

که په توره ختک خپل کړې، ګوندې خپل شي
ګڼه هيڅ به يې خپل نه کړې له اکرامه

اول خپلې خيلخانې وته نظر کړه
چې په لاس واړو نيولې ده څه خامه

اتفاق د خيلخانې عجب دولت دی
په نفاق يې واړه و وځي له آرامه

همګي شهد و شکر قند و نبات دي
هيڅ برهم مه شه د ورڼو له دشنامه

څو جفا د خپلو وړې، هومره به ښاد شې
که د خپلو جفا سخته وي مدامه

د ګلاب د ګلو هومره اغزي ياد وي
څو يې بوی راغلی نه وي تر مشامه

ښه ځوانان به خپل هوډ پرېنږدي له لاسه
که يې سر شي د خوني مزري تر ژامه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**کلیله دمنه به څه کړې راشه ګوره**
**چې څه دُر مې در ته توی کړه د کلامه**

**چې دې زړه، هغه ګوهر به په کې مومې**
**که پرې پوه شې له آغازه له انجامه**

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۴۳۴ـ ۴۳۵ مخونه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ